# د ټاکنو خپلواک کميسيون پرېکړه ليک

| | |
|---|---|
| **شمېره:** | ۴۶ـ ۱۳۹۳ |
| **موضوع:** | د رأيي ورکوني د ۲۳۰۰ محلونو د رأيو د تفتيش پايلي؛ |
| **ځانګه:** | د ټاکنو خپلواک کميسيون دارالانشاء |
| **د غونډې نېټه او ځای:** | د ۱۳۹۳ کال د وږي۱۷مه، (د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر ۸ مه) د ټاکنو خپلواک کميسيون مرکزي دفتر. |
| **حاضر غړي:** | ښاغلی ډاکتر احمد يوسف نورستاني، ښاغلی عبدالرحمن هوتکي، آغلې ګلالی اڅکزی، ښاغلی سرير احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمد حسين ګرزيواني، ښاغلی محمد عزيز بختياري، ښاغلی قاضي سليمان حامد، آغلې ليلا احراري او آغلې شريفه زرمتی وردک. |

د ټاکنو خپلواک کميسيون او د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کميسيون د صلاحيتونو، دندو او تشکيل قانون د ۱۳ مې مادې، د ټاکنو قانون د ۵۸ مې مادې د حکمونو او د خپلو ۳۳ او ۳۷ شمېره پرېکړه ليکونو پر بنسټ د ټاکنو خپلواک کميسيون د رأيي ورکوني د ۲۳۰۰ محلونو رأيو د تفتيش د پايلو په اړه ، په څلورو کټګوريو کې چې لړليک ( فهرست) او ځانګړني يې له دغه پرېکړه ليک سره ضميمه دي، په لاندې توګه پرېکړه وکړه:

۱ . د رأيي ورکوني ۲۳۰۰ محلونو له ډلې څخه ۲۲۴ هغه يې په چيک ليستونو کې د نه وضاحت له امله بياڅېړنې ته وړاندې شول چې ۱۰۳ محلونه په ځانګړي تفتيش او ۱۲۱ هغه په عادي تفتيش پورې اړه لري.
۲ . د رأيي ورکوني ۲۷۹ محلونه چې د تفتيش په پايله کې هيڅ ډول بې نظمي او ستونزه په کې ونه ليدل شوه،نورمال دي، کومه ستونزه نه لري او پروسس دې شي؛
۳. په ټوليزه توګه د رأيي ورکوني ۱۷۰۳ محلونو بياشمېرنه چې ۱۴۴۴ هغه يې په ځانګړي تفتيش او ۲۵۹ يې په عادي تفتيش پورې اړ لري، تأييد ده، د بيا شمېرنې په بهير کې دې شامل شي:

**د رأيي ورکوني د ۲۵۹ عادي صندوقونو د بياشمېرنې دلايل:**

۱. . د رأيي ورکوني ۲۱ محلونه په صندوقونو کې د پايلو فورمو د کاپي نشتوالي او يا هم د لاسوهني د شواهدو د شتون له امله.

۲. د رأيي ورکوني ۴۴ محلونه په پايلو فورمو کې له ۶۰۰ څخه د زياتو رأيو د ثبت له امله.

۳. د رأيي ورکوني ۴۷ محلونه د صندوقو د شاوخوا د دوو يا له دوو څخه د زياتو مهر او لاکونو د تخريب او ماتيدو له امله؛ يا د دې له پاره چې د صندوق د شاوخوا د دوو يا له دوو څخه زياتو مهر او لاکونو شمېرې په صندوق کې دننه د مهر او لاکونو فورمو له شمېرو سره سمون او مطابقت نه لري.

٤. د رأيي ورکوني ۳ محلونه د پايلو د اصلي فورمو او په صندوق کې دننه د پايلو فورمو کاپي تر منځ د توپير له امله.

٥. د رأيي ورکوني ۴۹ محلونه د رأيي ورکوونکيو ليست د نشتوالي يا سپين والي او يا په ليسټ کې له ۱۰ څخه د زياتو پرله پسې شمېرو د ثبت له امله.

٦. د رأيي ورکوني يو محل له دې امله چې صندوق يې دومره مات او تخريب شوي او يا يې مهر او لاکونه دومره سست دي چې لاس په کې دننه کيدای شي.

٧. د رأيي ورکوني ۹۴ محلونه له دې امله چې کم له کمه ۲۰ رأيپاڼې يې ورته نښه شوې وې او يا د طرزالعمل مطابق نه وې نښه شوې.

۴ . د رأيي ورکوني د ۹۴ محلونو د ټولو رأيو د ابطال تأييد دی چې ۵۳ هغه يې په ځانګړي او ۴۱ نور يې په عادي تفتيش پورې اړه لري:

**الف. د عادي تفتيش د ۴۱ صندوقونو د ابطال دلايل:**

۱. د رأيي ورکوني ۳۴ محلونه له دې امله چې په صندوق کې يې هيڅ رأيي پاڼي نشته، يا يې رأيي پاڼي مهر شوي نه دي، يا يې ټولي رأيي پاڼي د طرزالعمل مطابق نه دي نښه شوي، يا ټولي هغه په ورته بڼه نښه شوي او يا هم له کندي څخه نه دي بېلي شوي.

۲. د رأيي ورکوني ۳ محلونه له دې امله چې د رأيي ورکوني محلونو په ژورنال کې د زور زياتي، جګړې او د کميسيون د کارکوونکيو له کنټرول څخه د ټاکنيزو توکيو له لاسه وتلو په اړه ريپورټ ورکړل شوی وو.

۳. د رأيي ورکوني درې محلونه له دې امله چې د رأيي ورکوونکيو ليست يې ورک يا سپين دی او يا هم ۳۳ سلنه رأيي پاڼي يې مهر شوي نه دي، يا د طرزالعمل مطابق نه دي نښه شوې، يا په څرګنده توګه ورته نښه شوې او يا هم له کندې څخه نه دي بېلې شوې.

٤. د رأيي ورکوني يو محل له دې امله چې د صندوق د شاوخوا د دوو يا له دوو څخه زياتو مهر او لاکونو شمېرې په صندوق کې دننه د مهر او لاکونو د ثبت فورمې له شمېرو سره سمون نه لري او د پايلو په فورمو او د رأيي پاڼو په بنډولو کې يې د لاسوهنې ښکاره شواهد موجود دي.

**ب. د ځانګړي تفتيش د ۵۳ صندوقونو د ابطال دلايل:**

۱. د رأيي ورکوني ۲۲ محلونه له دې امله چې په صندوق کې يې هيڅ رأيي پاڼي نشته، يا يې رأيي پاڼي مهر شوې نه دي، يا ټولي رأيي پاڼي د طرزالعمل مطابق نه دي نښه شوې، يا ټولي هغه په ورته بڼه نښه شوي او يا هم له کندې څخه نه دي بېلې شوې.

۲. د رأيي ورکوني څلور محلونه له دې امله چې د رأيي ورکوني محل په ژورنال کې يې د زور زياتي، جګړې او د کميسيون د کارکوونکيو له کنټرول څخه د ټاکنيزو توکيو له لاسه وتلو په اړه ريپورټ ورکړل شوی وو.

**۳.** د رأيي ورکوني ۴ محلونه له دې امله چې د رأيي ورکوونکيو په ليستونو کې لس يا لسو څخه زياتي پرله پسې شمېرې ثبت شوې ، يا يې ۳۳ سلنه رأيي پاڼي ورته نښه شوې او يا د طرزالعمل مطابق نه دي نښه شوې.

٤. د رأيي ورکوني ۱۷ محلونه له دې امله چې د رأيي ورکوونکيو ليست يې سپين يا ورک شوی او کم له کمه ۳۳ سلنه رأيو يې ستونزه درلودې.

۵. د رأيي ورکوني ۶ محلونه له دې امله چې د صندوق د شاوخوا د دوو يا له دوو څخه زياتو مهر او لاکونو شمېرې په صندوق کې دننه د مهر او لاکونو د ثبت فورمې له شمېرو سره سمون نه لري او د پايلو په فورمو او د رأيي پاڼو په بنډولو کې يې د لاسوهنې ښکاره شواهد موجود دي.

| د پرېکړې مخالف | د غړيو نومونه | د پرېکړې موافق |
|---|---|---|
| | ښاغلی ډاکتر احمد يوسف نورستاني | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکی | |
| | آغلي ګلالۍ اڅکزۍ | |
| | ښاغلی سرير احمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسين ګرزيواني | |
| | ښاغلی محمد عزيز بختياري | |
| | ښاغلی قاضي سليمان حامد | |
| | آغلي ليلا احراري | |
| | آغلي شريفه زرمتي وردک | |